بسم الله الرحمن الرحيم

## د ډوډۍ او والدينو تر منځ ټاکنه

**خبر:**

دېره اسمعيل خان: د پنجشنبې په ورځ لومړي وزير عمران خان وويل؛ که چېرې د محصولاتو توليد ډېر نه شي او د نفوس ډېرښت همداسې دوام ولري، هېواد به مو په راتلونکو کلونو کې له قحطۍ او فقر سره مخ شي. هغه په پاکستان کې د نفوس د ډېرېدو په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه او ويې ويل چې په ۱۹۴۷م، کې د پاکستان نفوس له ۴۰ ميليونو څخه کم و او اوس ۲۲۰ مليونو ته رسېدلی دی. هغه وويل چې د نفوس دغه ډېروالی کولی شي چې د پوهې د کچې د لوړولو او د لومړيو صحي اسانتياوو په برابرولو سره جوت کړو. هغه وويل چې د پاکستان نفوس په ډېره چټکۍ وده کوي.

**تبصره:**

زموږ حاکمان د دې پر ځای چې له موږ سره مرسته وکړي، تر څو ځان له دغه حالت څخه، چې د دوی مخکينيو پر موږ باندې راوستلی دی، وباسي، موږ ته وايې چې بايد نه وئ. د دوی په نظر د دغه امت نفوس د لوړې اصلي لامل دی، په داسې حال کې چې دوی دغو خلکو ته اړتيا لري، چې دوی ته کار او خدمت يې وکړي. نو بنا پردې، زموږ شتون بايد احساس نه شي، خو موږ بايد هغه مطلوب کار سرته ورسوو او وروسته بيا د دوی د غوښتنو لپاره شعارونه ورکړو. عمران خان بايد په دې پوه شي، چې د هغه دنده يوازې دا نه ده، چې امر وکړي او خلکو ته يې نيمګړتياوې ور په ګوته کړي. له هغه څخه بايد پوښتنه وشي چې هغه هېواد چې اقتصاد يې په کرنه ولاړ دی، ولې د خوړو له بحران سره مخ دی؟ څوک په سيستماتيک ډول په هېواد کې د کرنې د سيستم د ويجاړولو مسوول دي؟ موږ ولې غذايي مواد را وارد کړو؟ دا هغه تغذيه کوونکې خولې نه دي چې د پاکستان د کرنې سيستم خرابوي، دا له منابعو څخه په قصداً ناسمه ګټه اخيستل دي او دا د هغو مسووليتونو نه منل دي، چې د يوه مسلمان حاکم لپاره ټاکل کېږي. د اوبو کمښت د پاکستان د کرنې د بحران يو له اصلي لاملونو څخه دی.

د ۲۰۱٦-۱۷ د پاکستان د اقتصادي سروې څخه لاسته راغلي معلومات ښيي، چې په ناخالص کورني محصول (GDP) کې د کرنيز محصول برخه ۱۹,۵ سلنه ده، چې د کاري ځواک لپاره ۴۲,۳ سلنه د کار زمينه برابروي. د اوبو منابع د پاکستان لپاره د ژوند د نجات بېړۍ دي. د پاکستان د علومو اکاډمۍ اسلام اباد (PASI) په ۲۰۱۹ کال کې يو راپور خپور کړ، چې په کې راغلي دي چې د کور دننه د اوبو اړتيا لږ تر لږه ۵۰ ليتره ده، په داسې حال کې چې په يوه ورځ کې د يوه کس د کښت لپاره له ۲٦۰۰-۵۳۰۰ ليتره اوبو ته اړتيا ده. له همدې امله د

خوړو امنیت په مستقیم ډول د اوبو له امنیت سره تړلی دی له ۵۰-۷۰ څلو پورې د غذایي موادو وده له کورنیو اړتیاوو څخه ډېرو اوبو ته اړتیا لري. که څه هم د پاکستان د اوبو په سرچینو کې د څېړنې شورا (PCRWR) په ۲۰۱٦ کال کې خبرداری ورکړی و، چې تر ۲۰۲۵م، پورې هېواد شاید وچ شي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) په ۲۰۱٦م، کې په یوه راپور کې وویل چې نن ورځ د پاکستان لپاره تر ټولو غټ ګواښ چې ور سره مخ دی تروریزم نه، بلکې د اوبو کمښت دی. پاکستان په نړۍ کې د اوبو لګولو تر ټولو لوی سیستمونه لري، مګر دا یو ډېر غیرې موثره سیستم دی، چې تقریباً ٦۰ سلنه اوبه د اوبو لګولو په میدان کې د لیکې او خمیدو له امله ضایع کېږي.

پاکستان د طبیعي زېرمو له پلوه یو بډای هېواد دی، خو د بې رحمه حاکمانو لخوا رهبري کېږي. دا ټولې د مدیریت مسالې دي، چې په ښې صادقې حکومتولۍ سره په ډېرې اسانۍ حل کېږي. کله چې په مدینه کې قحطي شوه حضرت عمر رضی الله عنه عاجل د مرستې د تنظیمولو لپاره امرونه ولېږل. د سوریې او مصر والیانو ته لیکونه ولېږل شول، ترڅو غذایي مواد راولیږي. هغه په خپله په شخصي ډول په دغه هڅو او تنظیمولو کې برخه درلوده، ترڅو چې دغه ستونزه حل شوه. د عمر بن خطاب یو قول دی، چې د ده د اعظمي مسوولیت حد څرګندوي، چې دی پوهېده چې د یوه رهبر په توګه مسوول دی او وایي: «که چېرې یو حیوان د عراق په ځمکه کې سفر کوي، زه ویرېږم چې الله تعالی به له ما څخه د هغه لپاره د لارې د نه جوړولو حساب واخلي» دا ښیي چې یو رینښتینی مسلمان رهبر له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېږي او د غفلت مفکوره اصلاً نه پېژني.

یوازینۍ رینښتینې حلاره د نبوت په طریقه د خلافت بیا تاسیس دی. امت ته د ډېرو اولادونو د نه شتون د مشورې پر ځای باید له اوبو څخه د ګټې اخیستنې او د غذایي موادو د تولید لپاره حلاره پیدا کړي. خلیفه به همدارنګه د اړمنو خلکو د لوږې د ستونزې د حل لپاره موثره لاره پیدا کړي، د دې پر ځای چې خلک د لږو ماشومانو درلودلو ته مجبور کړي.

«**مَا مِنْ وَالٍ يَلِي رَعِيَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَيَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لَهُمْ، إِلاَّ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ**» (بخاري)

***ژباړه:*** *د مسلمانانو له ډلې څخه هېڅ یو داسې حاکم نشته چې د دوی په فریب مړ شي، خو دا چې الله تعالی جنت ور باندې حرام کړي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: اخلاق جهان**

۱۴۴۳هـ.ق، د صفر ۲۲مه

۲۰۲۱م، د سپټمبر ۲۹مه